بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

الحمد لله رب العالمين و الصلاة و السلام على سيدنا محمد و على آله و أصحابه أجمعين

السلام عليكم و رحمة الله و بركاته؛

د پیل په توگه، زه غواړم له دوست او ورور هېواد قزاقستان جمهوریت او د ایکو سازمان د مسولینو څخه د دې مهمې ناستې د جوړولو لپاره چې د سیمې د هېوادونو ترمنځ د همکاریو د پراختیا زمینه برابروي مننه وکړم.

زه غواړم د افغانستان د اوسپنې پټلۍ په اړه تاسو ته لنډ معلومات وړاندې کړم. د هغو جنگونو او اقتصادي او سیاسي ستونزو له امله چې افغانستان په تېرو کلونو کې شاهد و، د افغانستان د اوسپنې پټلۍ په برخه کې کار نه دی شوی، په داسې حال کې چې د افغانستان جغرافیایي موقعیت په سیمه کې دا غوښتنه کوي چې د اوسپنې پټلۍ شبکې د پراختیا له لارې، افغانستان د یو ارتباطي پل په توگه چین له اروپا او د منځنۍ آسیا هېوادونه له سویلي آسیا سره ونښلوي.

اوس مهال افغانستان د **حیرتان** بندر له لارې د ازبکستان د اوسپنې پټلۍ شبکې سره، د **آقینه** او **تورغندي** بندرونو له لارې د ترکمنستان د اوسپنې پټلۍ شبکې سره، او د **هرات** ولایت له لارې د ایران د اوسپنې پټلۍ شبکې سره نښتی دی. د همدې مسیرونو له لارې د افغانستان اوسپنې پټلۍ د منځنۍ آسیا نورو هېوادونو، روسیې او همدارنگه اروپا سره نښتې ده. اوس مهال د افغانستان د اوسپنې پټلۍ کلنۍ انتقالاتو حجم ۵ **میلیون ټنو** ته رسیږي او دا حجم به د روان کال په اوږدو کې **٦ میلیون ټنو** ته زیات شي.

اوس مهال د **هرات او فاریاب** ولایتونو کې د ۱۰۰ **کیلومتره** اوسپنې پټلۍ د جوړېدو کار روان دی، او همدارنگه د منځنۍ آسیا له سویلي آسیا سره د افغانستان له لارې د نښلولو کوریډور **کاسا (CASA)**(تورغندي بندر – هرات – فراه – نیمروز – هلمند – کندهار – سپین بولدک) چې ۹۰۰ **کیلومتره** اوږد دی، تفصیلي سروې او ډیزاین یې د بشپړېدو په حال کې دی او تمه ده چې نهایی راپور یې په راتلونکی ۱ **میاشت** کې وړاندې شي.

د دې کوریډور د عملي کېدو سره، د منځنۍ آسیا له سویلي آسیا سره اتصال به د اوسپنې پټلۍ له لارې او د افغانستان له مسیر څخه ترسره شي. دا کوریډور به د سیمه‌ایزې سوداگرۍ او ترانزیت د ودې او پراختیا کې رغنده رول ولوبوي.

همدارنگه، د درېاړخيزې موافقنامې (ازبکستان – افغانستان – پاکستان) له مخې، تمه ده چې د **افغان – ټرانس** د اوسپنې پټلۍ کوريډور تخنيکي او اقتصادي مطالعات به په نږدې راتلونکي کې پيل شي. دا مسير هم د منځنۍ آسيا هېوادونو لپاره د افغانستان له مسير څخه د سويلي آسيا سره د اتصال زمينه برابروي.

افغانستان د ستراتيژيک جغرافيې له پلوه د ايکو سازمان يو له حياتي ارکانو څخه دی، او پرته له افغانستان د سيمه‌ايزو کوريډورونو (ټرانسپورټ، انرژۍ او سوداګرۍ) بشپړول ستونزمنه ده. په تېرو کلونو کې د افغانستان د بې‌ثباتۍ او ناامنۍ له امله، د افغانستان ريښتينی رول د ايکو په پروګرامونو کې د هغې له ظرفيت څخه کم و ، الحمد الله اوس مهال افغانستان امنيت او ثبات ته رسېدلی دی، او د افغانستان اسلامي امارت پاليسي د متقابل احترام، اقتصادی همکاری، سيمه‌ايز اتصال او سوداګرۍ او ټرانزيت پر پراختيا ولاړه ده، افغانستان کولای شي د ايکو سازمان د غړو هېوادونو سره په همکارۍ کې د ايکو سازمان د پروګرامونو د تطبيق لپاره خپل رغنده رول ولوبوي.

ستاسو د توجه څخه مننه،

والسلام